سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۱۲/۰۵

# حیرانتیا!

د معمول سره سم چې مې نن سهار د سباناری نه د مخه د خبرونو سر ټکي ولوستل، له بده مرغه مې تر ټولو د مخه په دی دردونکی خبر سترګی و لګیدی چی «نن سهار ډاکټر ناکامورا په داسی حال کی چی د وظیفی په لور روان و، د ناپیژاندو وسله والود برید لاندی راغی. په برید کی د هغه دریور او څلورو ساتونکی ځای په ځای مړه شول، خپل دی، زخمی او روغتون ته په لاره کی و مړ.» زړه می درد وکړ او د ده ټول خدمتونه می سترګو ته ودریدل.

خبری ډیری سریی یو، دی نتیجی ته ورسیدم چی هغه د کونړد سیند د اوبو یوه برخه عیار کړی وه. په همدی ګناه د پنجاب د (آی. اس. آی.) د مزدورانو له خوا ووژل شو. اروایي ښاده او کورنی ته یی د زړه صبر غواړم.

د ا لاندی یو څو ټکی می دي، خدائی خدمتګار ته لیکلی، ده ته ډالی او تاسو سره یی شریک وم

یو خدمتګار د انسانانو، یو انسان یی مړ که
«ناکامورا» سره اصیل افغان، جاپان یی مړکه

*** *** ***

هغه زمونږ له وچو دښتو شنه باغونه جوړ کړل
هغه په دښتوکی اغزو نه سره ګلونه جوړ کړل
هغه خروب کړلی زمونږه جل وهلی دښتي
هغه زمونږ د ولس بچو ته امیدونه جوړ کړل
چیی روزل د ژوند ګلان، هغه باغوان یی مړکه
« ناکامورا» سره اصیل افغان، جاپان یی مړ که

*** *** ***

ځوک چې افغان دپاره کارکړی، د پنجاب دښمن شی
ځوک چې پسه ژغوری له مرګه، د قصاب دښمن شی
ځوک چې محروم بنده ته، برخه په خوښي کی ورکړی
د پنجابی ملا کتاب کی، د ثواب دښمن شی
پرون صادره شوه فتوا! چې قهرمان يې مړ که
چې خدمتګار و د انسان هغه انسان يې مړ که

*** *** ***

ځوک به پوښتنه د مذهب، له دوکاندار وکړی؟
ځوک به د ننه په وطن کی، دولتی مقام نه
ځوک به پوښتنه په چوکی، له ناست غدار وکړی؟
چې دا ډاکټر «ناکامورا»، د مرګ سبب څه شی دی؟
په دی وطن را نازل شوی، دا غضب څه شی دی؟
مونږه حيران يو چې افغان، دومره ذليل ولی شو؟
او بيا دښمن د دی افغان، دومره **رذيل** ولی شو؟

دسمبر/۴/ ۲۰۱۹

ايجکس ــ تورنتوــ کانادا

*** *** ***

يادونه:

که چيری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او ليکوال نوری ليکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی او مطالب د «آرشيف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

**حيرانتيا!**

S_klewal_hairaantiyaa.pdf